دقران عظيم عزت اودرناوي دهرمسلمان وګړي ايماني وجداني اوديني دنده ده خاصة هغه څوك چي دقرآن تلاوت كوي يادحفظ اويادولو نيك بختي ورته په برخه رسيږي هغوي دقرآن دعزت اودرناوي په هكله زيات مسؤليت لري او وجيبه يي ده چي له دغه لوري څخه په غفلت كي ونه لويږي ،علامه ابي عبدالله محمد بن احمد الانصاري القرطبي پخپل تفسيرچي د (الجامع لاحكام القرآن) به نامه نوموړ شويدي اوېه تفسير قرطبي سره شهرت لري هغه د دغه تفسير په مقدمه كښي د(نوردرالاصول) كتاب په حواله چي دابوعبدالله الحكيم الترمذي تاليف دي دقران عظيم ددرناوي اوعزت كولو بحث اوموضع په څو كرښو كي نقل كړيده چي دلته د درنو لوستونكو لپاره ژباړه اوترجمه شويده ترڅو هغوي دقران په درناوي كي ورڅخه ګټه واخلي اوداسي فرمايي :

دعظيم الشان قران له عزت اودرناوي څخه دادي چي له اوداسه پرته به يي نه مسحه كوي ، اوداوداسه په لرلو سره به يي تلاوت كوي، دخولي په خلال اومسواك وهلو سره به خوله ورته پاكه اونظيفه كوي ، ځكه چي خوله دقرآن لوستلو يوه لاره ده ،يزيدابن مالك رحمة الله عليه وايي (يقيناً ستاسو خولي دقران له لارو څخه يوه لاره ده نوتر څومرچي توان وي هغه پاكي اونظيفي وساتي .)

دقران له درناوي نڅه دا هم دي چي تلاوت كولو ته به يي داسي جامي آغوندي چي ګويا ديوه امير مجلس ته وردننه كيږي اوېه حقيقت كي تلاوت كوونكي له قران سره مناجات اوخبري كوونكي دي ،اوهمدا چي مخ په قبله به يي لولي ، حضرت ابوالعاليه رحمة الله عليه به چي كله قرآن لوستلو نو په آرامي سره به يي پاكي جامي اوڅادر واغوست اووروسره به مخ په قبله شو، تلاوت كوونكي چي كله ناكله بلغم تُف كوي نوله هغه وروسته به په خوله اوبه تيره وي (مضمضه) به كوي شعبة له ابي حمزه اوهغه له ابن عباس (رض) څخه روايت كړيدي چي د ابن عباس په لاس كښي به هروخت داوبولوښي وچي كله به يي بلغم تُف كولو نو په خوله به يي اوبه تيرې ولي اوبيا به يي دخداي (ج) په ذكرشروع كوله او دايي هميشني عادت و.

دتلاوت په وخت كي چي كله ارګمي ورځي نودقران لوستل به پريږدي ځكه تلاوت كوونكي دخداي (ج) سره په خبرولګيا اومناجات كوونكي دي ، مجاهد رحمة الله عليه فرمايي : (كله چي ته دقرآن لوستلو په وخت كي ارګمي كوي نودقران تلاوت بس كړه ترڅو داارګمي خلاص شي) اوحضرت عكرمة فرمايي چي په پورتني خبره كي مطلب دقران عزت اولويوالي دي دتلاوت په پيل كيدوكي اعوذ بالله اوبسم الله الرحمن الرحيم ويل دي.

كوم چي په اول دسوره باندي اويا هغه ځاي چي مخكي ورته رسيدلي ؤ شروع كوي ، اوكله يي چي په قرائت باندي پيل وكړ نودضرورت څخه پرته به دخلكو دخبرويه وجه تلاوت هرلحظه نه ټوټي ټوټي كوي ، دهغه له درناوي څخه يو داچي په يوه ګوښه اوكناره كي به تلاوت كوي

په دي خاطر چي له بل چا سره دسوال اوځواب په كولو تلاوت ګډوډنشي اوكنه نوداعوذبالله ويلو هغه ګټه به له مينځ څخه لاړه شي كوم چي په اول كي يي ويلي وه ،اوبل داچي په مينه محبت ترتيل اودكلماتو دښه تركيب په اساس به يي لولي ، خپل ذهن ،فهم به په تلاوت مصروف ساتي ترڅو په هغه شي باندي پوه شي كوم يي چي لولي اوله درناوي څخه يي داچي دوعداورحمت په آية باندي به لږ شانته ځنډ اووقفه كوي ترڅو دخداي (ج) لوري ته مائل اودهغه له پيرزويني څخه غوښتنه وكړي اودوعيد اوعذاب په آية باندي به هم لږشانته ځنډ اووقفه كوي چي دالله (ج) څخه دعذابه پناه وغواړي اوهم به دقرآن له امثالو څخه دمثال په توګه پنداوعبرت اخلي ، اودقرآن له پټواسرارو څخه به التماس اوغوښتنه كوي ، داداكولو په لحاظ به هرتوري ته داداكولو خپل حق وركوي ترڅو دتلفظ له مخي كلمه اوكلام په ښه توګه له خولي څخه بهرته شي ځكه چي تلاوت كوونكي لره په هر توري باندي لس ،لس نيكي دي اوبل داچي كله يي قرائت پاي ته ورسيدو نو دالله (ج) به تصديق كوي اودرسول الله صلي الله عليه وسلم به په حق سره دليږلو شهادت اوګواهي وركوي اوله دي وروسته به دځان لپاره دوعاګاني كوي ، دقرآن عظيم له عزت څخه بل داچي له مختلفو سورتونو څخه به يويو آيه كريمه نه لولي ځكه له رسول الله (ص) څخه روايت شويدي چي كوم وخت حضرت بلال (رض) له هري يوي سوري څخه يوه اندازه لوستلو نو رسول الله ورته امر وكړ چي يوه سوره مكمله ولوله (اوكماقال عليه السلام) اوداچي قران كريم به غوړيدلي نه پريږدي اونه به وريباندي بل كوم كتاب ږدي ترڅو قرآن عظيم دټل لپاره په نوروكتابونو له هره پلوه لوړ اوعالي وي ، اوچي كله يي تلاوت كوي نوپه زمكه باندي به يي نه ږدي بلكه پخپله غيږاويابل داسي شي باندي به يي ږدي چي تر مځ يي لوړ كيښودل شي ، دعظيم الشان قرآن له عزت څخه بل داچي كه فرضاً په كومه لوحه باندي هغه ليكل شوي ؤ نوهغه به په لاړوباندي نه محوه كوي ، بلكه په اوبو باندي به يي مينځي اودقران داحترام په خاطر به يي اوبه په ناپاكه ځاي اويابل داسي كوم ځاي كي چي دخلكو تريښو لاندي شي نه توېه وي ځكه دغه اوبه ددېراحترام وړدي اوتبروشوېونيكانو به ځان له په دغه اوبوباندي دشفا ء غوښتنه كوله ،اوكه دقران كومه زړه ورقه وي هغه به دبل كتاب لپاره وقايه نكوي ځكه دادقران سره لويه جفا ده اوبهتره داده چي هغه ورقه په اوبو باندي محوه كړي ، دورځي په اږدوكي بايد يوځله قران ويلو ته ليدنه اوكتنه وشي حضرت ابوموسي به ويل زه له دي څخه حيا كوم چي په ورځ كي يوځل دخداي (ج) مقدس كتاب ته ونګورم .

نوربيا

معلومات طبی

دیابت یامرض شکر

داکترنجیب الله"محبوب"

تداوي وكنترول

تداوي مرض شكر بيشتر مربوط است به تفهيم وتعليم مريضان واينكه بايد بدانند كدام نكات رادقيقاً وجداً مراعات كنند. مريضان مصاب ديابت بايد بدانند كه مرض شان تداوي شفا دهنده نداشته بلكه صرفي مي تواند تحت كنترول درآورده شود كه باين صورت مريض حيات نارمل خويش راسپري مي كند . مصابين ديابت جواني برعلاوه كنترول غذايي به دوا هم اكثراً ضرورت احساس ميكنند امامصابين ديابت پيران اگر رژيم غذايي درست را همراه با ورزش وفعاليت هاي جسمي مناسب مراعات كنند اكثراً ضرورتي بدواپيدانمي كنند . لذا كنترول غذايي مهمترين بخش كنترول مرض شكر رامي سازد. بدون صرف غذايي مناسب كنترول مرض شكر امكان ندارد ومتاسفانه اكثر سروي هاي مطالعاتي حتي درممالك انكشاف يافته نيز نشان داده كه زياد ترمريضان مصاب ديابت رژيم غذايي رامراعات نميكنند.

محدوديت در غذاي اين مريضان بيشتر مربوط است به وزن اينها هرقدروزن مريضي بيشتر باشد بايد مقداركمتر غذا مصرف شود وطور اوسط قنديات بايد نصف مقدارمجموعي انرژي موردضرورت وجود رابسازد.

مصرف روغنيات بايد محدود شده وبجاي روغن حيواني بايد ازروغن نباتي مايع استفاده شود شيري كه قيماق آنگرفته شده باشد نظر به شيرگاو بهتراست.

درممالك مترقي بالاي هرنوع مقدارگلو كوزآن تحريرگرديده وحتي ازطرف موسسات كنترول ديابت رهنمايي هاوهدايات لازمه براي مصابين ديابت توزيع وگفته مي شود كه كدام غذاهاي رايج درآن محيط رابه چه مقدار دروزچندمرتبه مصرف وازكدام غذا ها بايد پرهيز كنند ودرمحيط ما تاحال اين كارها اجرانشده وصرف براي معلومات مريضان محترم مقدارشكر اغذيه معمولي درمحيط خويش راذكرمي كنيم .

صدگرام اغذيه ذيل داراي مقادير ذيل گلوكوزاست.

آرد گندم ٦٣٫٦ گرام

شيرگاو ٤٫٧ گرام

پنير جزيي .

انجير ١٣ گرام

زردك ٥٫٤ گرام

تخم بسيار جزيي

ماش ٧ گرام

مغز بادام ٥ گرام

نخود ١٫٣ گرام

عسل ٧٦٫٤گرام

كچالو ١٩٫٧ گرام

مرباي ميوه جات ٦٩ گرام

سيب ٩٫٢ گرام

شيريني ٣٧٫٣ گرام

كيله ١١٫٤ گرام

خرما ٥٤٫٩ گرام

كشمش ٦٤٫٩ گرام

مريضان ديابت (درصورتيكه چاق نباشند) ازاغذيه ذيل طورآزادانه استفاده كرده مي توانند.

گوشت گاو ،گوسفند ،ماهي ، تخم ،شير ،پنير ،نخود ،لوبيا وسبزيجات ازقبيل گلپي ،گندنه ،پالك ،ميوه جات ،ليمو ، زردك ،آب زردگ ،سوداواتر وغيره ازاغذيه ذيل بايد جداً اجتناب شود: بوره ،محصولات شكر ، مربا ،عسل ،شربت ،كيك ،كلچه بيسكويت ، آيس كريم ، خرما وكشمش .

هم چنان اگر مريضان مقادير كمتر غذا را به دفعات مكرر مصرف كنند مرض شان آسانترتحت كنترول ميآيد مثلاً بجاي سه وقت غذا ،همان غذا را روزانه پنج مرتبه مصرف كنند سويه شكر خون شان زيادبلند نميرود.

ورزش وفعاليت هاي جسمي :

اجراي ورزش نزد مصابين ديابت حتمي ولازمي است زيراازيكطرف سويه شكر خون راپائين ميآورد وازطرف ديگر براي كنترول چاقي وفشار خون بلند مفيد است،نوعيت ورزش بايد نظر به سن ،وزن ،فعاليت هاي سابقه بروضع عمومي صحي وعلاقه مريض تعيين شود مثلاً براي اشخاص پيركه تمايل به چاقي موجود باشد پياده گردي وآب بازي مفيد است نزد اشخاص جوان وصحت مندبايسكل سواري وورزش هاي ثقيل تر توصيه مي شود مصابين ديابت جوانان بايد بيشتر ورزش كنند.

دسرمقالي پاتي برخه

اودولس غوښتنه هغه وخت پوره کېداي اوډاطمینان ساه اخستي شي چې، له يوې خوا يوملي اردوچي دمكلفیت ددورې په اساس جوړشوې وي تشكيل شي اوله بل لوري دخلكورايې ته مراجعه وشي دهغوي په خوښه يوه باصلاحيته شورې اوحكومت جوړشي. اوددي دووچارولپاره داسې حكومت ته ضرورت دي چې ټولواړخونوته دمنلووړوي، ځكه پرته له دې اوديوه تنظيم دواكمنې په موجوديت كې نه په اردوخوك اعتمادكولاي شي، چې وسلې ورته وسپاري اونه هم كېدونكي انتخابات بې طرفانه بولي له همدې لامله لازمه ده چې استادرباني اووروركمتياردواړه خپلې څوكې پرېږدي اويوموقت حكومت جوړكړي اوهغه حكومت همدادوه عمده كارونه چې دملي اردوجوړول اوانتخابات كول دي ترسره كړي .

داستادرباني دوياند دڅرګندولو په هكله دومره وايوچي داخبره له هيڅاخخه پټه نه ده چې داستادرباني رياست اووروروكمتيارصدارت دواړه داسلام آباداوجلال آباد دمعاهدو محصول دي چې دجهادي مشرانو په موافقه وټاكل شول وددواړولپاره اتلس اتلس مياشتي موده وټاكل شوه يعني رياست وصدارت دواړه دجهادي مشرانودموافقې په اساس شوې، په همدې اساس اوس هم كه ټول جهادي مشران موافقه وكړي دواړه له كاره گوښه كېداي شي. اوياكه يوطرف له معاهدې څخه سرغړونه كوي نوبيا معاهده له منځه ځي، دمعاهدې دله منځه تلوپه صورت كې استادرباني اوانجنيرحكمتياردواړه له كاره گوښه كېږي .

كه دهغه وياند وايي چې استادرباني داهل حل وعقد دشورې محصول دي. نوموږ وايوچې كه داشورې قانوني واي اوداستاد ټاكنه دشورې واي اوياجهادي مشرانوته دمنلوواي نوبيادااسلام آباد موافقې ته څه ضرورت و؟ اوبله داچې داهل حل وعقد جعلي شورې خورباني ددووكالولپاره ټاكلي و، دادوه كاله په اتلسو مياشتوځنگه بدل شول؟ هغه شورې خواستادرباني ته دحكومت دكلو اوديوچادصدراعظم كولوواك وركړي و، نوبيا ددولت رئيس صدراعظم اوكابينه ولې درهبرانودشورې په اساس په اسلام آباد وجلال آبادكې وټاكل شوه ددولت درئيس اوصدراعظم صلاحيتونه ولې هلته تعين شول ؟ دا هغه واقعيتونه دي چې ټوله نړۍ پرې شاهده ده اوپه لوظنامه خودپاكستان، ايران اوسعودي عربستان مشرانودضامن په حيث لاسليك هم كړېدي نوبايد استادرباني دهغه وياند اوځني نورې شراچوونكې خبرې داسې بې مسئوليته خبرې وكړي چې دجگړې اورته لمن ووهي اوموجوده وضعه نوره هم كړكيچنه كړي .

پكارداده چې دواړه خواوې ټول مشكلات دخبروله لارې حل كړي،يوبل ته ددوستي اووروري لاس وركړي اويادووروركمتيار وړانديزسره سم ابرومندانه ديوه موقت حكومت لپاره لاره اواره كړي اوله كاره گوښه شي .

غوره خبره داده...

دلړم ۱۷ نېټه :

دافغانستان داسلامي دولت داطلاعاتواوكلتوردكميسيون رئيس استادقريب الرحمن سعيدبي بي سي سره دمركې په ترځ كې دعزيزمراد ددې خبرې په ځواب كې چې جمهوررئيس رباني دحل اوعقد دشوراله خواانتخاب شوي اودملي وحدت سمبول دي اودهغه استعفى دحكمتيار د استعفى پورې اړه نه لري ووېل : نن ورځ دملت سمبول هيڅ يونشي گرځېدي، كاشكي استادرباني په دادومره موده كې دخپل حكومت يادرياست جمهوري واك ترېل آرتل پورې هم غزولي وي. متاسفانه يوځوك چې په يونيم كال كې ونه توانيږي دېل ارتل اودريم مكرويان پورې خپل حكومت وغزوي ،اويادېوولايت نه بل ولايت ته لاړشي هغه څنگه دملت سمبول گرځېدي شي، استادرباني ته بهتره اوغوره لاره همداده چې ددغه يونيم كال زړوتجربونه په استفادې سره دحكومت نه استعفى وكړي اوحكومت داسې افرادوته وسپاري چې هغه ټول ملت ته دقبول وړوي اويوموقت نظام جوړشي اودغه مؤقت نظام دانتخاباتو له لارې يوملي اسلامي حكومت جوړكړي ، ددې نه پرته كه څوك په زوروځان دملت سمبول گرځوي هغه دخلكوپه سترگوكې دخاورو اچولوپرته بل هيڅ معنى نه لري. ده ددې پوښتنې په ځواب كې چې داسې رپوټونه خپاره شوي چې پيرصاحب گيلاني كابل ته تللې دي اوهلته كېداي شي استادرباني ده په موردكې كوم تصميم ولري اوهغه دصدراعظم په توگه وټاكي ، ووېل: موږ يخواهم عرض كړي اوبيا هم وايوچې دملت دغه ستونزې يوازې دپيرصاحب سيداحمدگيلاني په صدراعظمي باندې نشي حل كېدي اونه استادرباني دااختيارلري چې يوصدراعظم كړي اويل لري كړي ځكه دواړه استادرباني اوانجنيرصاحب حكمتياردااسلام آباداوجلال آباد تړونونودمكې دميثاق په واسطه داته لسو، اته لسومياشتوديارة دجهادي قيادي شوراالخوادرئيس جمهوراوصدراعظم په حيث ټاكل شويدي په دې اساس بهترينه اوغوره لاره همداده چې له داسې كسانونه چې هغه ملت ته قابل قبول وي حكومت جوړكړي حل كېدي شي .

ده ددې پوښتنې په ځواب كې چې تاسې دتگاب داوسني وضعې په باره كې معلومات لري ووېل : دتگاب په هكله مې چې بېگاكوم راپوروااورېده دېرتأسف مې وكړځكه چې سخت په درواغو باندې ولاړ راپوروو، دتگاب وضع همدااوس مالمخابروپواسطه تعقيب كړي اوداراپور مې ترلاسه كړي چې دتعميرچي دتگاب مركز په نوم يادېږي اودنجراب سره په اوه كيلومترۍ كې واقع دې څغه دحزب اسلامي مجاهدينوپرته قبضه كړي، كوه شمشادهم دحزب اسلامي مجاهدينونيولي اودحزب اسلامي مجاهدين ددې لارې نه مخكې روان دې همدارازدلغمان له طرف نه دېچه غان علاقه داري چې په نجراب كې واقع ده داستادعبدالله جان په مشرۍ دحزب مجاهدينوقبضه كړي ، دغوربند له طرف نه هم دحزب مجاهدينودشنبواراواوكفشان علاقه داري ته پرمختگ كړي خوبمباري په شدت سره روانه ده اوهغه څه چې دحزب اسلامي دمجاهدينوپرمخ كې لوې خنډدې هغه په دښته كې پرددې باندې بمباري ده بمباري پرون اونن په دېرشدت سره روانه ده اوټوله منطقه دودونوډكه كړې همدارازدبمبارۍ له لاسه دخلكوتلفات زيات شوي ځكه چې په كليواوباندوباندي زياته بمباري كيږي اوهرهغه ځاي كې چې دخلكواجتماع گورې هغه دښمن تصوركوي اوهغې باندې بمباري كوي اوله مينځه يې وړي .

وروروقريب الرحمن ددې پوښتنې په ځواب كې چې تېره ورځ وروروكمتيارووېل چې دشوراي نظارځواكونودجنبش نه هوائي ملاتړغوښتي دي چې الوتكي دبمبارۍ لپاره وروليږي نوآياداالوتكي چې بمباري كوي دادجنبش دي اوكه دشوراي نظار، څرگنده كړه : تراوسه پورې په دې هكله مونږته مؤثق معلومات نه دي راغلي اما الوتكي مسلسل بمباري كوي نه پوهيږو چې دكوم ځاي نه پروازكوي بعضې الوتكي دبگرام نه پروازكوي سره ددې چې بگرام هم دغوربند دمجاهدينوتراوورلاندې دي خوبياهم اكثراً پروازونه له همدې ځاي څخه كيږي اوتراوسه پورې له بل طرف مونږته مؤثق معلومات نشته . ده ددې پوښتنې په ځواب كې چې دجمعيت اسلامي يوقوماندان په خپله مركه ويلي وو چې دوي به دسروبي اونغلوله لارې لغمان ته لاړشي اودلغمان ولايت ونيسي اووايي چې يوه برخه ئې ددوي په لاس كې ده په دې هكله تاسې څه معلومات لري ووېل كه چېرې دوې داتوان اوطاقت درلودلې دوي به دېرپخوادااقدام كړې واي دوي خودهمدې اقدام په خاطرپه سروبي كې دحزب پرمجاهدينوباندې دااوسنې حمله كړي، دحملې ابتدا دوي په همدې خاطركړې چې سروبي ونيسي، تغلوبند ونيسي اوددې خواته نورمزاحمت ايجاد كړي، دوي په همدې خاطر حمله كړې وه حزب په همدې خاطردفاع كوي ځكه چې دامنطقې دحزب اسلامي په لاس كې دې دحزب اسلامي مجاهدين مكمل په دې باندې كنټرول لري په افسوس سره بايدووايم چې دوي دتوسعه طلبي پاليسي اختياركړي په داسې حال كې چې په افغانستان كې يوموقت نظام موجوددې دوي دغه نظام ته هيڅ احترام نه لري اوپه خپل سردغسې جنگونه چې هغه دملت دتباهي باعث گرځي شروع كړي دي.

متن دري پيغام احمدشاه مسعود به بي نظيربوتوصدراعظم پاكستان

محترمه بي نظيربوتوصدراعظم ورهبرحزب مردم پاكستان !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته .

محترما ! اينجانب به نمايندگي ازملت مجاهد افغانستان خاصتاً شوراي نظار ،به مناسبت پيروزي حزب مردم درانتخابات پاكستان ونيزبخاطر انتخاب شمابه صفت صدراعظم كشورتان سلام هاوتمنيات قلبي خويش را ابرازمي نمايم .

پيروزي شماوشكست گروههاي بنيادگرادرپاكستان سبب نيرومندي واستحكام ديموكراسي درافغانستان گرديده است. اميدواريم كه اين پيروزي سبب اعادهٔ مناسبات هردوكشور پاكستان و افغانستان به مجراي درست آن گردد .

محترما ! حتماً شمادرجريان حوادث ۱٦ ماههٔ اخيرافغانستان هستيدكه عناصربنيادگرا وبرخي افراد متنفذدراردو، افغانستان راتبديل به صحنهٔ جنگ داخلي نموده اند بنيادگراهاعامل اصلي جنگ دركشورمااند، مداخلهٔ نيروهاي خارجي وعمال داخلي اسباب جنگ رافراهم آورده است، مگرتاسيس حكومت نيرومند ديموكراتيك درپاكستان مايهٔ اميدواري وطمانيت خاطرگرديده است . پيروزي شمابارديگراين اطمينان را بمابخشيد كه يگانه راهي كه بايددرافغانستان پيموده شود،عبارت ازتحكيم حكومت اصيل ديموكراتيك درين كشوراست .

ماازطريق مطبوعات ووزيرداخله نصيرالله بابربرآن شديم تا بخاطرپيروزي مجددشماخوشي ومسرت خويش راابراز نمائيم وبدينوسيله انتخاب مجدد شمارادرياست حكومت پاكستان تبريك وتهنيت عرض نمائيم واميدواريم كه منبعد روابط ميان حكومات ماوشما مبتني برصداقت باشد واين مناسبات تحت قيادت مدبرانهٔ شمادرجهت صلح وثبات منطقه تقويت خواهدگرديد .

بااحترامات فائقه

مخلص شما

دكتورعبدالرحمن	احمدشاه مسعود
نائب رئيس شوراي نظاروورير هوانوردي ملكي وتوريزم	سابق وزيردفاع ورئيس شوراي نظار

متن اصلي پيغام احمدشاه مسعود عنواني بي نظيربوتو صدراعظم پاكستان كه به زبان انگليسي نگاشته شده است :

H.E.Ms. Benazir Bhutto,
Prime Minister of Pakistan and
Co-Chairperson,Pakistan Peoples Party.

Kabul,
October 20,1993.

Your Excellency!

Assalam-o-Alaikum,

On behalf of the mujahid people of Afghanistan and especially Shoora-i-Nazaar we send our heartiest congratulations on the success of the Peoples Party in the recent elections in Pakistan and on your assuming the office of the Prime Minister .

Your success and the defeat of the fundamentalists and opportunists in Pakistan have given a boost to the morale of the pro-democracy groups in Afghanistan. We sincerely hope that your success will once again pave the way for the establishment of intimate and better understanding between the peoples of Afghanistan and Pakistan.

Your Excellency, you are well aware that for the past more than sixteen months the fundamentalists and a handful of army men have converted Afghanistan into a theatre of internal war. In our view the real cause of this internal crisis is the interference by foreign forces and the Afghan agents of these foreigners. But the establishment of strong democratic government in Pakistan has given us the encouragement. Your success has once again given us the hope that the way will soon be paved for real democracy in Afghanistan.

We had already established contacts through press and Gen.Naseerullah Babar Sahib to convey our felicitations on your success. Once again through this message we congratulate you on your being elected the Prime Minister of Pakistan and hope that the friendly relations between the two governments will further strengthen on the principle of peaceful co-existence under your able leadership.

With regards

Sd./-
Dr. Abdur Rehman,Vice Chairman,
Shoora-i-Nazaar and Minister for
Civil Aviation and Tourism,

very sincerely yours,
Sd./-
Ahmad Shah Masood,
Former Defence Minister
and Chairman Shoora-i-Nazaar

TOTAL P.01

صدراعظم پاكستان...

مي كند تيره بودولي پاكستان اين امرراتكذيب ميكند .

بااينهمه بي نظيربوتو پس ازانتخاب به عنوان صدراعظم پاكستان باردیگرتعهدخودرابه برنامه هستوي پاكستان مادام كه هنداز توانايي ساخت سلاح هاي اتومي برخورداراست مورد تاكيد قرارداد. اختلافات موجودبرسربرنامه پاكستان باعث شدكه امريكا كمك هاي اقتصادي ونظامي خودرابه پاكستان به حال تعليق درآورد .

دكابل دو ه...

كاركاوه اوديوې نمرې څمكې په خاطر يې دكابل ښاروالۍ ته مراجعه كړې وه . رپوټ زياتوي چې دغه مظلوم ښاري چې دډېرومندوتررو اودښاروالۍ دمقاماتودنه پاملرنې له امله دښاروالۍ دامنيت دمسئولينو سره ئې چې دنظارله شوراپه يوقوماندان پورې اړه درلوده په شخړه لاس پورې كړخونوموړاافرادو په ډېره بې رحمۍ دكلاشنكوف په ډزوسره دښاروالۍ په انگړكې ووېشت اوشهيدئې كړ .

رپوټ زياتوي ددوهم وژل شوي تن دمكمل شهرت په باب موثقه اطلاع نشته .

موږغواړو دا...

پرېكړې ته رسېدلي يو، هيله لروچې سبادسه شنبې په ورځ به خپله وروستي پرېكړه اعلان كړو .

مولاناصاحب زياته كړه موږ په تگاب اوسروبي اوټولو ځايونوكې رواني جگړې داسلام اوشريعت خلاف بولو اوزموږداغوښتنه ده چې داستونزې اواختلافات بايد دكتاب الله اوسنت رسول الله په رڼاكې حل وفصل شي ، دجهادي تنظيمونوترمنځ دايمي اوربند وشي اواسلامي حكومت جوړشي .

مولاناصاحب داهم ووېل چې موږ دپسوردجلسې پرېكړې جهادي مشرانوته لېږلې چې هغوې په دې اړوند خپل نظرلري، ده ووېل ، انجنيرحكمتياردمخابرې پواسطه موږته واك راكړي ويلي يې دي چې زه حاضريم چې دااختلافات دقرآن اوسنتوپه رڼاكې حل شي. استادسياف هم خپل رضايت څرگندكړي ، مولوي صاحب خالص خوبخپله پدې مصالحتي شورې كې موجوددي . خوداستادرباني اومسعود ځواب تراوسه نه دي رارسيدلي .

مولاناصاحب زياته كړه ،موږهځه كووچې استادسياف ،مولوي صاحب محمدنبي ، پيرصاحب ، اوحضرت صاحب هم دې مصالحې ته راوغواړو چې هغوي هم له موږسره شريك شي .

مولاناصاحب ددې پوښتنې په ځواب كې چې آياتاسې ديومتبادل حكومت دجوړيدوطرحه لري ووېل، نه موږتراوسه په دې هكله څه نه دي ويلي، فقط موږغواړوروانې جگړې اواختلافات دقرآن اوسنتوپه رڼاكې حل وفصل كړو.

دخاد يوتن...

خان زوې معرفي كوي دخادپنځم رياست كاركونكې دي چې دكابل په دوهمه ناحيه كې ژوند كوي .

ده غوښتل دخاددجهنمي دستگاه په دستوردعظمي صدارت دمؤقت دفترپه شااوخواكې دوزيرانو دموټروپه منفجرولو سره له يوې خوالخومشهورشخصيتونه ووژني اوله بلې خوادحزب اسلامي په ساحه كې ددغه جنايت كارانه عمل په ترسره كولو سره له هغې نه ناوړه سياسي اوتبليغاتي استفاده وكړي . رپوټ څرگندوي دوزيرانودعالي شوراغړي چې كله ددې پيښې څخه خبركړي شول نودكابينې په غونډه كې پرېكړه وشوه چې ددوتنووزيرانوپوهيئت دې دمجرم څخه تحقيق وكړي ، له همدې امله دسرحداتووزيرمحترم سيدسليمان گيلاني او دترانسپورت وزارت سرپرست حاجي محمدخليل زهاد ترې تحقيق اوپوښتنې وكړي .

بقيه نامه ها...

،هغه كسان چې قومي اونژادي دعوت چلوي ځان شرموي اوان شاالله ددوي منفي هيلې به ناكامې پاتې كيږي او بواسلامي حكومت پرمرويه افغانستان كې كاميابيږي.

خواږه ترخه

مولانا صيب !

جزاك الله

ذبيح الله "شرر"

دخداي په فضل ،څوارلس كاله پر له پسې جهاد ، سختو تنگو ،هجرتونو اوزحمتونو ، تكليفونو اوكړاوونو يوه نتيجه دا هم په لاس راكړه چې دملت له مينځ نه داسې مشران راپورته شول چې خلك يې له خپل ځان بولي ، دصلحې اواصلاح هرغږ ته يې لبيك وايي او هرې فيصلې ته يې مطمئن اوداده وي ، دملت له ليكو نه ددغو قدرمنومشرانو دتجريد اوځانله والي ډېرې داخلي اوخارجي دسيسې شوي دي خواوس دخپلو وينو په بيه شنډې كړې دي. يواځنې خند چې داولس اومحترمو مشرانو ترمينځ موجود دي ، هغه دغه بې سارې مادي امكانات دي چې دنوكر چاكر ، لوړو بلډنگونو ، اخرماډل موټرو اويې حسابه بادي گارډانو په شكل كې راڅرگند اوخلك يې له خپلو مشرانو جلا كړي دي. اميد دي چې دوخت په تيريدو به دامنفي تكي هم ليرې شي.

په كشرانوكې جنگ جگړې پېښيږي اودايوه طبيعي خبره ده ،ټول خلك ديوه زړه خاوندان نه دي ، خو چې مشران يې مشران وي نوبيا ترې شخړې نه اوږدې كيږي ،سمدستي لاس په كارشي ،كشران سره كښينوي ،څه له يوې ډېرې اوڅه له بلې ډېرې له خپلو حقونو تير شي ، څه دمشر په مخ پرېږدي ،فيصله وشي ، دواړه خواوې راضي وي چې مشر پرېكړه كړې ده ،موږ واك وركړې ژاوهغه پرېكړه وكړه ،په زور خو رابانډې چا نه ده تپلې ، اوپه دې ډول ، دتشنج اودښمني فضا ختم شي . دابيله خبره ده چې ځينې تش په نامه مشران همدې ته ناست وي چې داختلافاتو اوجنگونو اورته ببوزي ووهي.

دننگرهار وروستي پېښو هر خوږمن زړه دردولي اوهره بينا سترگه يې ژړولي وه ، زموږ دلاپې ځاي همدا ننگرهار ؤچې چا به وويل تاسې حكومت نشې كولي اويواځې ورانولو ته جوړياست نوموږ به سرراپورته كړ چې ولې ننگرهار ته نه گوري ! په ننگرهار به مو ددښمن سترگې خړې كړې اوخپلې به موجگې .خوكيدې شي چې دادعا به موهيره كړي وه چې خدايه ! ننگرهار له بدو سترگو وساتې هماغه ؤچې دبدانو بدنظر پرې ولگيد اوڅه داسې پيښې وشوې چې يواځې اويواځې دخداي (ج) په فضل ،دنيكواوصالحو افرادو دمينځگړتوب اوپه لانجه كې دشاملو اړخونو په صبر اوحوصله يې دوېروونكې خبريدو او غټيدو مخه ونيول شوه .كه څه هم په كابل كې ناستو مداريانو ورته نوكان ترنگول چې كه خير وي ، سره واموچول خودنيك خواهانو د نيكې جذبې دبدانو په بدخواهې كاميابې شوې " زمستان گذشت وروي سياه به ذغال ماند." الله تعالي مولانا جلال الدين حقاني ته دا توفيق وركړ چې دخپلو ورونو ترمينځ كښيني اودهغوي اختلافات حل كړي ، خداي (ج) دي دوارو اطرافو ته نيك اجر اوپه ښووپرېكړو دعمل توفيق وركړي. دمولانا حقاني داپروخت اونيك اقدام به دجهادي تاريخ په يوه زرينه پاڼه كې وليكل شي. اوكه خداي مكړه ،بياچيرې دغه رنگې اختلافات پيداكيږي نوبيا به هم دوې ته سترگې اوړي . ددوي بې غرضه او لله في الله دمېنځگړتوب ؤچې دننگرهار مسايل بې دحل په لورې وخوځول ،ددوي داصلاح اوخيرغوښتنې اراده وه چې الله تعالي پكې بركت واچوه اوهمدا دقران فرمان دي چې كله داصلاح نيت اواراده وي نو خداي (ج) به بيشكه چې دعمل توفيق وركوي . زموږ په روانو شخړو اوستونزوكې نور ډېر دمېنځگړي راپيدا شوي خو دهيڅا دمېنځگړتوب مطلوبه نتيجه نه ده وركړې ځكه چې دغودمېنځگړو به هغه وخت مداخله كوله چې كله به دحزب اسلامي مجاهدو شاه زلمو په ائتلافيانو ځمكه تنگه كړه نوبيا به دمېنځگړي راپيداشول . سوال ،زارې اوننواتې به يې وكړې ،خداي (ج) ته وگورې ،قرآن ته وگورې سره وروڼه ياست جنگ مه كوي ،چې ورته ويه دې ويل چې هغه پرموږ يې جنگ راتپلې ؤ نو تاسې چيرې وې ؟ بيا به درته په ژړغوني اوازوايي چې خير دې بيا به داسې نه كيږي مگر بيا به هم دغسې كيدل اوپه كراتو مراتووشول. تازه مثال يې دتگاب اوسنې جگړه ده دپروان - كاپيسا ولايتونه دحزب اسلامي دمجاهدينو په لاس كې ووله روسانو يې آزاد كړي وو. خو ائتلافيانو په دسيسو ،پيسو اوچلوټو ترې وشړل ،هغه وخت يومصلح يادمېنځگړي پيدا نه شو.

چې ترمينځه شي اوائتلافيانو ته ووايي چې پخپل ځاي كښينئ اوس چې دحزب اسلامي مجاهدين دمياشتو مياشتوصبرنه وروسته خپلې ځالې ته ستنيږي نودغرض اوټگې دمېنځگړي بيارلوړاندې كيږي چې جنگ مه كوي !! رښتيا چې جنگ بدشي دي اوبايد چې ونه شي ، خو ايا دايواځې هغه وخت بدوي چې كله فتح اوبرې دحزب اسلامي وي ! حزب اسلامي هروخت دهمدې دمېنځگړو په لاس گټلې جنگونه بايللي دي اونور بايد داسې ونه شي دغه جنگونه په څه كيږي اودچا دوينو په زور كيږي كه خبره دارنگ وي چې دهرې جگړې قرباني به ددې صيب اوهغه صيب په خاطر په سند لاهو كيږي نوبيادې ددې كوندو په زامنو نوررحم وشي . نور دې زموږزورانو كوډلوله زموږ دشاه زلمو ټوك ټوكر بدنونه اوهغه هم دهيڅ لپاره نه راليږل كيږي.

دغو غرضي دمېنځگړو له ځواب وركړې اوترهغې پورې دشراو بدې ملگرې وځغلوې چې ترڅوبې دپوزې كرښه نه وي ويستلي بيا كه كوم نيك دمېنځگړي دمولانا حقاني په پل قدم كيښود نوبروا نشته .اوس خودننگرهار دشخړې داوارې او حل په مقابل كې موږ خپل قدرمن مولاناته له دې پرته بل څه نه لروچې :

مولانا صيب ! جزاك الله .

تاکل شوي چي دمارچ په ۳۱ دامریکا قواوي له سومالیا ځخه وځي

دلړم ۱۵:
په اروپا یي ټولنه کښي دامریکا یو پخواني سفیرجیمزدوبین په سومالیا کښي دامریکاد دیپلوماتیکي فعالیتونو دنوي قوی رئیس ټاکل شوي دي دوبین به دسومالیا ځخه دامریکا دقواوو دراایستلو ځخه مخکي چي ټاکل شوي ده دمارچ په ۳۱ به راوځي . دامریکا ددیپلوماتیکو فعالیتونومشرتوب به کوي .
له سومالیي ځخه دامریکا د قواوو درایستلوموضوع په سومالیاکښي دسولي دټینګیدلوپه لاره کښي دملګروملتونو دکوششونو په هکله اندیښني راپیداکړیدي.

۴۵۰ شرکت درنمایشگاه طیارات اشتراك نموده اند

۱۷ عقرب .
بزرگترین کارخانه هاي هوا پیماسازي جهان امیدواراند که درنمایش گاه بین المللي هواپیماکه امروز درد‌وبي گشایش یافت قرارداد هایي رابه ارزش ملیارد ها دالرباکشورهاي حوزهٔ خلیج فارس منعقد کنند.
حدود چهارصدو پنجاه شرکت درین نمایشگاه حضور دارند وهشتادنوع مختلف ازهواپیماها وهلیکوپترهاي که بیشتر آنها از هواپیماهاي نظامي هستند به نمایش گذاشته شده است.
خبرمي افزاید که باپایان گرفتن جنگ سردکشورهاي حوزهٔ خلیج فارس هم اکنون به صورت عمده ترین بازار اسلحه جهان درآمده اند.

عراق د کیمیاوي وسلو داستعمالولوخبره رده کړي ده

دلړم ۱۵ :
عراق په خپلو جنوبي سیموکښي د مخالفینو په مقابل کښي دکیمیاوي وسلو داستعمالولوخبر ردکړي دي .
دعراق دولتي مطبوعات وایي : دا ټولي ادعاوي دعراق دیاغیانو پرغلطومعلوماتو باندي ولاړي دي ، دوي تورلګوي چي دغه ادعاوي دهغه کوښښ یوه برخه ده چي مطلب یي دعراق په مقابل کښ دملګروملتونو دتعذیراتو ساتل دي ملګري ملتونه دعراق دحکومت لخوادزهرجن ګاز داستعمالیدلو درپوټونو په باره کښي تحقیقات کوي .

پولیس روسیه یك عملیات بزرگ امنیتي رابراه انداخته است.

۱۷ عقرب
پولیس روسیه درهفتاد وششمین سالگرد انقلاب گورسیوکي یك عملیات بزرگ امنیتي رادر مسکو به راه انداخته است اماتاکنون صرف یك مظاهره کوچك توسط حدودسه صد کمونست براه انداخته شده که درنزدیکي میدان اکتوبر تجمع کرده بودند . این افراد توسط قواي پولیس به یك ایستگاه قطارزیر زمیني عقب زده شدند.
خبرمي افزاید که بعدازشورش مسلحانه درپارلمان درماه گذشته که طي آن یکصدوپنجاه نفر کشته شدند هرگونه مظاهرات ممنوع قرار داده شده است.

دچین اوامریکا دباندنیو چارو وزیرانو سره وکتل .

دلړم ۱۵:
دامریکا خارجه وزیرکرستوفر وایي دچین تجارتي امتیازات ځکه دخطر لاندي چي پیکنګ دبشر دحقوقویه موضوع کښي چنداني پرمخ تګ ندي کړي.
کرستوفر دجمعي په ورځ خبرداري ورکړ چي پیکنګ باید دبشردحقوقو په باره کښي اصلاحات راولي اوکه نه نوتجارتي امتیازات به له لاسه ورکړي کرستوفر دکانګرس له‌ګیلان سره‌دخپلو خبروځخه وروسته دچین دخارجه وزیر سره وکتل دچین اوامریکا دجمهورو رئیسانو ترمینځ د راتلونکي عالي غونډي په باره کښي خبري وکړي .

مالیزیاوافریقاي‌جنوبي‌روابط‌دیپلوماتیك‌رادرسطح‌سفارت‌برقرارمیسازند.

مالیزیا – ۱۷ عقرب :
مالیزیا وافریقاي جنوبي موافقه نموده اند تاروابط دیپلوماتیك را درسطح سفارت برقرارکنند . مامورین وزارت خارجه روز دوشنبه در کوالالمپور گفتند؛مالیزیا تصمیم دارد به خاطر اقداماتي که افریقاي جنوبي درجهت از بین بردن نظام تبعیض نژادي روي دست گرفته مناسبات راباآن کشور برقرارسازد. درماه گذشته هیئات هاي تجارتي مالیزیااز افریقاي جنوبي بازدید کرده وخط هوایي مالیزیا ،پرواز هاي هفته وار رابه آنکشورآغاز کرده است.

دامنیت شورا اعلان کړي چي ایل سلوادورته یوخاص هیئت واستوي

دلړم ۱۵:
دملګرو ملتودامنیت شورا اعلان کړي چي ایل سلوادورته به یوخاص هیئت واستوي چي د سي ایرخ وژنکو ډلودبیافعال کیدلو په هکله تحقیقات وکړي.
دملګرو ملتودعمومي منشي مرستیال مارك ګولډن به ددغه هیئت مشري په غاړه ولري .
دتیرکال راهیسي چي دایل سلوادور (۱۲) کلن داخلي جنګ دختمولوپه منظور دملګروملتودسرپرستي لاندي دسولي موافقه لاسلیك شویده .
۲۶ تنه پخواني چپي ګوریلایان وژل شوي دي.

امریکا به حمایت...

مخالف تدویرقبل ازوقت انتخابات ریاست جمهوري درماه جون آینده است .

دپاکستان دجمهوري ریاست لپاره به دوسیم سجاد اوفاروق لغاري ترمنځ مقابله وي

اسلام آباد :
داسلام آبادځخه درارسیدلوریوټونومطابق دجمهوري ریاست لپاره دمسلم لیګ نوازشریف ګروپ ځلورتنوکاندیدانو ګوهرایوب ،افتخارګیلاني، سرتاج عزیزاومجید ملك دپاکستان دموجوده سرپرست جمهوررئیس وسیم سجادپه حق کي دخپل کاندیداسنادبیرته واخستل چي پدي ترتیب وسیم سجاد دمسلم لیګ نوازګروپ یوازني کاندیددي .
له بلي خواتردي وراندي حاکم ګوند (پیپلزپارټي) کاندیدان (آفتاب شیرپاواوشعبان میراني) پخواتردي دفاروق لغاري په حق کي تیرشول، همدارازبلخ شیرمزاري اودپاکستان پخواني جمهوررئیس غلام اسحاق خان هم چي ازادکاندیدان وو دفاروق لغاري په پلوي خپل کاندیدبیرته واخست .
اوس یوازي شپږتنه امیدواران (وسیم سجاد، سردارفاروق احمدلغاري، نواب زاده نصرالله خان، نواب محمداکبربګټي ، متقاعد هوایي جنرال اصغرخان اویحیي بختیار) پاته دي.
دپاکستان ددجمهوري ریاست دانتخاباتولپاره دراي ګیري ورځ دنومبر(۱۳) نیټه ټاکل شوي ده

دشمنان اسلام نمیخواهند که مردم افغانستان ثمرهٔ جهاد خویش را حاصل نمایند

۱۷ عقرب :
جنرال حمیدگل یکتن ازجنرالان بازنشسته ارتش پاکستان طي مصاحبه ئي گفته است که یگانه راه حل بحران کشمیر جهاداست وازمردم مسلمان پاکستان خواست که آماده باشدتادرجهاد درکشمیراشغالي شرکت جویند . جنرال حمیدگل افزودند درمقابل انکارمکررهند ازقراردادهاي که درمعضله کشمیرتوسط سازمان ملل صادرگردیده است بجزراه جهاد مسلحانه راه دیگري باقي نمانده است وي اضافه نموده گفت: اگرمردم پاکستان حاضربه همکاري وکمك نشوند در آینده فاجعه ئي برایشان خواهدبودوي درقسمت دیگري گفت که جذبه جهاد مردم مسلمان کشمیر راقمبتوان باخشونت سرکوب نمود . درجواب سوالي وي گفت که دشمنان اسلام نمي خواهند درافغانستان حکومت اسلامي قایم گرددومردم این کشورثمره جهادطولاني رادرمقابل ابرقدرت به انجام رسانیده اند بدست آورند .
جنرال حمیدگل به هندهوشداردادکه به محاصرهٔ زیارت حضربل خاتمه دهد

دفترکمیساری ملل متحد درکندز به غارت برده شد

کندز – ۱۷ عقرب :
مقامات سازمان ملل متحد میگویدکه یکي ازدفاترکمیساري هاي سازمان ملل درامورپناهندگان در ولایت کندزافغانستان توسط افرادمسلح محلي غارت شده است . آنهامیگویند بعدازاینکه افرادمسلح که گفته میشودمربوط تنظیم اتحاد اسلامي استادسیاف بودند دفترکمیساري سازمان ملل رادرکندزاشغال نموده کارکنان سازمان ملل محل کارخودراترك کردند.
خبرمي افزایدکه اکنون افرادمسلح مذکور دفترکمیساري سازمان ملل درشیرخان بندربراي کمك به پناهندگان تاجکي ایجادشده بودترك گفته اند .

صدراعظم پاکستان بادبیرکل وزارت خارجهٔ امریکادیداروگفتگونمود

اسلام آباد – ۱۷ عقرب :
بي نظیربوتو نخست وزیرپاکستان میگوید: اولویت اصلي سیاست خارجي وي بهبودوتقویت روابط پاکستان باامریکااست . وي بادیداردیروز خود بارابین رفاسرمدبرکل وزارت امورخارجه امریکادربهبود آسیاي جنوبي هیچ گشایش آشکاري درزمینه مسئله هستوي پاکستان حاصل نګرد دربیانیه پاکستان تنهاگفته شده است که بي نظیربوتو ورافاسرمدبرکل وزارت امورخارجه امریکا مسئله منع گسترش سلاح هاي هستوي راموردبحث قراردادند.
خبرمي افزایدکه روابط امریکاباپاکستان به خاطرحدس وگمان امریکادراین زمینه که دولت اسلام آبادسلاح هاي هستوي تولید

ص(۷)

دنومبردمیاشتي راهیسي ۴۳ تنه الجزایري مبارزمسلمانان دامنیتي ځواکونو لخواشهیدان شوي

دلړم ۱۶ :
دوه تنه الجزایري مبارزمسلمانان. تیره ورځ دالجزیري په ختیځ اوجنوب کي دمسلمانانو دټیوني لپاره دامنیتي ځواکونودپلټني دعملیاتو په جریان کي دګولیو په ډزوسره شهیدان شول .
دالجزایري رژیم منابعوددغي خبرتاییدولو په ترځ کي اعلان وکړ دامنیتي ځواکونوسرهٔ دمسلمانانو دوسله والو نښتویه جریان کي همداراز دژاندارم پولیسویوتن ووژل شو.
دموجودوشمیرنوپراساس دنومبردلومړي نیټي ځخه تراوسه پوري دري څلویښت تنه الجزایري مبارزمسلمانان دالجزایرپه مختلفو ځایونوکي دامنیتي ځواکونولخواشهیدان شوي دي .

رابن رافیل به نن افغانستان ته سفر وکړي

جنګ راولپنډي – اسلام آباد :
دموثقواوباوري منابعودخبرپه اساس دامریکادبهرنیوچارو دوزارت مرستیاله رابن رافیله دنومبرپه ۹ نیټه چي له نن سره سمون خوري افغانستان ته سفرکوي، نوموړي اوس په پاکستان کي ده .
په خبرکي زیاته شوي چي رابن رافیل به په کابل کي دافغانستان له مشرانوسره لیدني کتني کوي اودنومبرپه لسمه نیټه بیرته اسلام آبادته ستنیږي په همدي ورځ به خپل هیواد امریکاته ځي .

دفاتحي اعلان

مرحوم قوماندان معلم صاحب اول ګل چي په ننګرهارکي دحزب اسلامي دولایتي تنظیم. ددعوت اوتنظیم مسئول دلمړي لمبر قول اردو دتخنیك آمر اودجهادي شوري غړي دفاتحي مراسم چي په ۸ر۸ر۷۲ نیټه دسهارپه ۹:۳۰ بجو دپیښورپه لیدي ریډنګ روغتون کي په حق رسیدلي اوجنازه یي په ۹ر۸ر۷۲ په پلرني هدیره کي خاوروته سپارل شویده دپنجشنبي په ورځ د عقرب دمیاشتي په شلمه نیټه دمرحوم دورثه وو دجهادي سنګر ملګرو دولایتي تنظیم اودلمړي نمبر قول اردو دقوماندانی له خوا دسهار له (۸) بجو ځخه دغرمي تر ۱۱:۳۰ بجو پوري دجلال اباد ښارپه سپین جومات کي اخستل کیږي، محترم دوستان دي خبروي

ارشادنبوي

ابوموسي اشعري (رض) روایت مي کند که پیامبر (ص) فرمودند مسلمان براي مسلمان (رابطه مسلمانها باهمدیگر درتعاون وهمکاري) چون ساختماني است که برخي ،برخي دیگر را محکم مي سازد ، سپس آن حضرت (ص) انگشت هاي خود رابهمدیگر درآوردند.
(متفق علیه)

فرمان الهي

هرآنکه کسیرا بغیرعوض کسي وبغیرفساد درزمین (قطع طریق و ارتداد) بکشد ، چنان است که همه مردمرا کشته است وهرکه سبب زندگاني کسي شد ، پس چنانست که همه مردم رازنده نموده باشد.
(مائده ۳۲)

دکابل په ښارکي داستاذانو دروزني لپاره مسلکي سیمینارونه پیل شوي

دنبراسکادپوهنتون دښوونې اوروزني دامدادي پروژې دښوونکوپروګرام پدي بریالي شوي چي دستونزواومشکلاتوسره دکابل په ښارکي دلومړنیوښوونځیودښوونکولپاره په (۵) ټیمونوکي مسلکي سیمینارونه دایرکړي، چي دسیمینارونوتدویرلپاره دوه ټیمونه تاریخه اودري شځینه ټیمونه استازان له پیښورځخه کابل ته استول شوي .
په رپوټ کي لیکل شوي دکابل په دوه بیلابیلوبرخوکي دښوونې اوروزني دوزارت لومړي معین حضرت شاه آغامجددي په عالمانه وینا سره دسیمینارافتتاح وشوه .
په رپوټ کي زیاته شوي: دنارینه استازانو دسیمینارځاي په کلوله پښته کي دافغانستان تعلیمي مرکزدفترټاکل شوي چي انتینه استازان پکي ګډون کوي
دښځینه استازانودسیمینارځای به شهراراکي دیوتجربوي ښوونځي انګړټاکل شوي چي تقریباً (۱۱۲) تنه ښځینه استازان پکي ګډون لري .

افشاي طرح قتل صدام حسین توسط سازمان CIA یلتسین باید به وعدهٔ خود وفاکند

۱۵ عقرب
نشست هایي که میان مخالفین صدام حسین ومامورین بلندپایه سي آي اي به منظوربه قتل رسانیدن صدام حسین رئیس جمهورعراق درلندن صورت گرفته بود اخیراً توسط یکروزنامه چاپ لندن افشاگردید. بقول این اخبارسال گذشته درپایان بحث تفصیلي که میان سعد جابرکه درلندن بسرمیبرد ویك گروه ازمتخصصین سازمان سي آي اي صورت گرفت توافق گردیدکه طیارات جنګي امریکابه بهانه بمبارد برقصرریاست جمهوري عراق بمباران نماید.اخبار مذکوراضافه مینماید که بیش ازده تن ازافسران بلندپایه ارتش عراق آمادگي خویش رابخاطراجراي این طرح نشان داده بودند . مگرحسین اقدام انتخابات ریاست جمهوري امریکا درحال اجرابودویعداً کلنتن ازاین تصمیم سي آي اي مطلع گردید .

مسلمانان محاصره شده درحضرت بل خواهان خارج شدن ازمسجداند

دهلي جدید – ۱۷ عقرب :
مقامات ایالت جموو‌کشمیرتحت اشغال هندمیگویندکه مسلمانان تندروتحت محاصره درمسجد حضرت بل درسرینگردرطول انجام مذاکرات براي حل این بحران موضع سخت تري رادرپیش گرفته اند.
این مقامات گفتندکه این مسلمانان تندروهم اکنون اصراردارندکه به آنهااجازه داده شود تاباسلاح هاي شان این مسجدرا ترك کنندوهمچنین نیروهاي هندي این منطقه راترك نمایند .
خبرمي افزاید که نیروهاي امنیتي هندي سه هفته پیش مسجد حضرت بل رامحاصره کرده اند قراراست دوربعدي مذاکرات امروزانجام شود .

دمصر مسلمانومحصلینو په یولړ مظاهرو لاس پوری کر

دلړم ۱۶ :
نږدي ۱۰۰۰ تنومصري مسلمانو محصلینوتیره ورځ دقاهري دپوهنتون دلیلیي ځخه د۱۴ تنومحصلینودنیولو اودنوروودري سوو تنودایستلو اودغونډودممانعت په باب داعتراض په توګه په یولړ مظاهرو لاس پوري کړ.
دقاهري ځخه دخبري اژانسونودرپوټ په اساس دشورش ضدپولیسود ۱۵ موټروځخه په استفادي سره دپوهنتون دکلابندولو په ترځ کي دپوهنتون دمحدودي ځخه بهرته دمحصلینودمظاهرودلمي دپراخیدوځخه مخ نیوي وکړ .
محصلینودیولړشعارونویه ورکولو سره دلیلیي ځخه د ۳۰۰ تنومحصلینو دایستلوپه وړاندي دپوهنتون دمسئولینو دبي تفاوتي اوهمداراز دمحصلینو دغونډو دممنوعیت اودنشرئي دخپرولو دمرکزدنه درلودلو په نسبت اعتراض درلود .

دبګرام اوخواجه ...

رواش په هوایي ډګرکي دمسعود دپلویانولخوا دبم په چاودنه له مینځه لاړه .
دکابل په هوایي ډګرکي یوباوري منبع دپیام آزادي رادیو تلویزیون ښاري خبریال ته ددغي خبریه ورکولو سره وویل : له دغي پیښي ځخه وروسته دتخنیکي چارولس تنه کارکونکي اوهمداراز دهوایي ډګرکارکونکي په نوموړي پیښه کي دلاس لرلو په تورونیول شول .
خبني کتونکي پدي عقیده دي چي ددغي الوتکي دله مینځه وړلوکي دوه هدفه وو لومړي : دننګرهارشورادالوتکي ځخه محروموول دي .
دویم داچي : دنوموړي الوتکي پرځاي دننګرهارشوراته بله الوتکه ورکړي له دي لاري به دننګرهار شوراډخیل احسان لاندي راولي .

شهادت
بیانګرعقایدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامي افغانستان
مؤسس : انجینرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنګ
تحت نظرهیئت تحریر
پست بکس : ۱۰۳۶ یونیورستي تاون پشاور
آدرس : جلال آباد چکتوري
حساب بانکي: ۸۵۲۶۴ دافغانستان‌بانك
تلیفون : ۲۹۲۶

اعلان

ابن سینا مرکزي طبي لابراتوار واقع بورد ناصرباغ رودکوچه سوم تحت نظرعبدالغني "سلطاني " اخیراً باوسایل مجهز وپرسونل ورزیده وباتجربه شروع بکار نموده است. درقسمت اجرت معاینات تخفیف قابل ملاحظه نسبت به مارکیت درنظرگرفته شده است. (۲-۳)